# د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم

# د ژوند په اړه ۳۰۰ پوښتنې او ځوابونه

لیکوال: عبدالله نوري
کرکتنه: مفتي هدایت الله امین



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حضرت محمد ﷺ د ژوند په اړه (۳۰۰) پوښتنې او ځوابونه

لیکوال: عبدالله " نـــوری"
کره کتنه: مفتی هدایت الله "امین"

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم الله الرحمن الرحیم

## سریزه

الحمد لله رب العالمین والصلوة والسلام على اشرف الانبياء والمرسلين حبيبنا و حبیب رب العالمین وعلى اله وصحبه اجمعين وعلى من اهتدى بهديه الى يوم الدين.

اما بعد: ټولې ستاینې هغه الله تعالی لره دي چې په نعمت سره يې نيکی سرته رسيږي، شاهدي وايم چې له الله (جل جلاله) پرته بل د عبادت وړ معبود نشته الله (جل جلاله) يوازې دی شريک نه لري او شاهدي وايم چې محمد ﷺ يې بنده رسول غوره او خليل دی محمد ﷺ خپل رسالت ادا کړی، امانت يې رسولی، امت ته يې نصيحت کړی او په داسې سپين غولي يې پريښی چې شپه يې له ورځ داسې رڼا ده، د الله (جل جلاله) درود رحمت دې وي پر محمد ﷺ آل او اصحابو يې، الله(جل جلاله) دې راضي وي له هغه نه چې تر قيامته د هغه ﷺ د سنت پيروي کوي او عمل ورباندې کوي اې ارحم الراحمين خدايه! مونږ هم له خپلې عفوې او رضا نه برخمن کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ډالۍ**

**د رسول الله صلی الله علیه وسلم ټولو امتیانو ته.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱.پوښتنه: د پلار له طرفه د رسول الله ﷺ نسب بیان کړئ؟
۱.ځواب: محمد بن عبدالله بن عبدالمطلب بن هاشم بن عبدمناف بن قصی بن کلاب بن مره بن کعب بن لوی بن غالب بن فهربن مالک بن النضر بن کنانه بن خزیمه بن مدرکه بن الیاس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان.
۲. پوښتنه: د رسول الله ﷺ کورنۍ چا ته منسوب ده ؟
۲.ځواب: د رسول الله ﷺ جد هاشم ته (هاشمي) کورنۍ.
۳.پوښتنه: رسول الله ﷺ په کوم کال دنیا ته راغی؟
۳.ځواب: نبی علیه الصلوة والسلام د فیل واقعې څخه ۵۰ یا ۵۵ ورځې وروسته د دوشنبې ورځ ، د ربیع الاول په ۸ مه، ۵۷۱ میلادي کال د اپریل ۲۲نیټې سره سمون خوري.
۴.پوښتنه: رسول الله ﷺ په کوم ښار کې پیدا شو؟
۴.ځواب: په مکه کې د بني هاشم په ناو( شعب او د سوق اللیل په محل کې.
۵.پوښتنه: د رسول الله په پیدایښت سره کومې پېښې په دنیا کې رامنځته شوې؟
۵.ځواب: د کسری د قصر ۱۴ کنګرې راولویدلې .د مجوسو اورتون (اتشکده) مړه شوه .د ساوه بحیره وچه شوه او یوه رڼا اسمان خواته پورته ولاړه.
۶.پوښتنه: چا په رسول الله ﷺ باندې د محمد نوم کېښود؟
۶.ځواب: نیکه یې عبدالمطلب
۷.پوښتنه: چا په احمد سره ونوماوه؟
۷.ځواب: مور یې بي بي امنې .
۸.پوښتنه: د رسول الله ﷺ د پیدایښت پرمهال عبدالمطلب څه وکړل؟
۸. ځواب: هغه یې کعبې شریفې ته یووړ او د خدای ستاینه او لمانځنه یې وکړه او د محمد نوم یې پرې کېښود.
۹.پوښتنه: ولې یې نیکه عبدالمطلب هغه په محمد سره ونوماوه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹.ځواب: ځکه هغه دا خوښوله چې د ځمکې او اسمان اهل د هغه ستاینه وکړي.

۱۰.پوښتنه: د رسول الله ﷺ لومړۍ رضاعي مور (دایه) څوک وه؟

۱۰.ځواب: د ابولهب وینځه (ثُوَیْبَهْ) وه.

۱۱.پوښتنه: له هغې نه وروسته کومه ښځه د رسول الله ﷺ رضاعي مور شوه؟

۱۱.ځواب: حلیمه (سعدیه) د ابي ذویب لور.

۱۲.پوښتنه: د رسول الله ﷺ رضاعي ورونو نومونه واخلئ؟

۱۲.ځواب: عبدالله بن الحارث، ابوسفیان بن الحارث او تره یې حمزه (رضی الله عنهم ).

۱۳. پوښتنه: د رسول الله ﷺ د رضاعي خوېندو نومونه واخلئ؟

۱۳. ځواب: انیسه بنت الحارث جذامه بنت الحارث چې مشهوره په (شیماء) وه.

۱۴.پوښتنه: کوم برکتونه د حلیمې سعدیې په ژوند کې محمد ﷺ ته د شیدو له ورکولو نه وروسته ښکاره شول؟

۱۴.ځواب: د هغې له شیدو تشه سینه په شیدوباندې ډکه شوه، د هغې سپرلي د نورو ښځو سپرلیو نه مخکې شوه او د هغې مېږو هم زیاتې شیدې ورکړې.

۱۵.پوښتنه: حلیمې سعدیې څو کاله د محمد ﷺ پالنه په غاړه درلوده؟

۱۵.ځواب: څلور(۴) کاله.

۱۶.پوښتنه: رسول الله ﷺ کله خپل پلار له لاسه ورکړ؟

۱۶.ځواب: هغه وخت چې د مور په ګېډه کې د دوو میاشتو و.

۱۷.پوښتنه: رسول الله ﷺ په څو کلنۍ کې خپله مور د لاسه ورکړه؟

۱۷.ځواب: په شپږ(۶) کلنۍ کې.

۱۸.پوښتنه: د رسول الله ﷺ مور بی بی امنه څرنګه وفات شوه؟

۱۸.ځواب: آمنې نیت وکړ چې د خپل خاوند د قبر زیارت وکړي د یثرب په لور یې حرکت وکړ هلته یوه میاشت پاتې شوه، خو چې د بېرته

(c) ketabton.com: The Digital Library


راتګ اراده کوي ناروغه کېږي د مکې او مدينې تر مينځ د ( ابواء) نومي سيمه کې وفات شوه.

۱۹. پوښتنه: په څو کلنۍ کې يې ګران نيکه عبدالمطلب وفات شو؟

۱۹.ځواب: اته کاله، دوه مياشتې او ۱۰ ورځې د رسول الله ﷺ پوره شوې وې.

۲۰.پوښتنه: له عبدالمطلب نه وروسته د رسول الله ﷺ سرپرستي او پالنه چا په غاړه واخيسته؟

۲۰.ځواب: تره يې ابو طالب.

۲۱. پوښتنه: د رسول الله ﷺ شق الصدر(د سينې څيرې کيدل ) څو وارې تر سره شوي؟

۲۱.ځواب: څلور ځلې لومړی ځل په څلور کلنۍ کې، دويم ځل په لس کلنۍ کې، دريم ځل د بعثت پرمهال او څلورم ځل د معراج پر مهال رامنځته شو.

۲۲.پوښتنه: رسول الله ﷺ څو کلن و چې د خپل تره ابوطالب سره شام ته تجارت لپاره ولاړ؟

۲۲.ځواب: رسول الله ﷺ ۱۲کلن و.

۲۳.پوښتنه: رسول الله ﷺ څو کلن و چې د فجار جګړه رامنځته شوه؟

۲۳.ځواب: رسول الله ﷺ ۱۵ کلن و.

۲۴.پوښتنه: کله چې قريشو د کعبې د جوړولو هوډ وکړ رسول الله ﷺ څوکلن و؟

۲۴.ځواب: رسول الله ﷺ ۳۵ کلن و.

۲۵.پوښتنه: د کعبې د جوړولوپر مهال څه پېښه رامنځته شوه؟

۲۵.ځواب: د قريشو پرګنو د حجرالاسود د نصبولو په خاطر يوې له بلې سره لانجه وکړه او نېږدې وه چې وينه تويه شي.

۲۶.پوښتنه: رسول الله ﷺ څرنګه د دې پېښې (وينې تويدنې) د پېښېدلو مخنيوی وکړ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۶.ځواب: رسول الله صلی الله علیه وسلم حجرالاسود د خپل څادر په منځ کې کېښود او ټولو ته يې حکم وکړ چې څادر له څندو څخه ونيسي څنګه چې د حجرالاسود د نصبولو ځای ته ورسيدل نو پخپلو مبارکو لاسونو يې هغه پخپل ځای کې کېښودله.

۲۷.پوښتنه: رسول الله صلی الله علیه وسلم په ځوانۍ کې په کوم صفت مشهور و؟

۲۷.ځواب: په محمد امين ( امانتکار ) سره.

۲۸.پوښتنه: له بعثت نه مخکې رسول الله صلی الله علیه وسلم په کوم شريعت باندې د خدای عبادت کاوه؟

۲۸.ځواب: هغه مُوَحِّدْ و او د ابراهيم (عليه الصلوة والسلام) په څېر يې د پيغبرانو له شريعت څخه پيروي کوله.

۲۹.پوښتنه: له بعثت نه مخکې به د عبادت لپاره چېرته تللو؟

۲۹.ځواب: جبل نور د حرا غار ته تللو.

۳۰.پوښتنه: حضرت محمد صلی الله علیه وسلم څرنګه پيغمبرۍ ته ورسيد؟

۳۰.ځواب: هغه (عليه الصلوة والسلام) د خپل مخکيني عادت سره سم د حرا غار ته د عبادت لپاره ولاړ، په همدې وخت کې جبرايیل (عليه الصلوة والسلام) راښکته شواو له سلام وروسته يې ورته وويل: ( اقرا: ولوله حضرت محمد صلی الله علیه وسلم وويل: زه لوستل نه شم کولی، څوځلي دا عمل تکرار شو او په هر وار باندې جبرايیل (عليه الصلوة والسلام) هغه په شدت سره په غېږ کې ټينګ کړ.

۳۱.پوښتنه: محمد صلی الله علیه وسلم په څوکلنۍ کې پر پيغمبرۍ مبعوث شو؟

۳۱.ځواب: په څلويښت ( ۴۰) کلنۍ کې .

۳۲.پوښتنه: د رسول الله صلی الله علیه وسلم مخکي له بعثت نه کسب کار څه و؟

۳۲.ځواب: په ماشوم والي کې د رمو(مېږو) شپون او په ځوانۍ کې تجارت کاوه.

۳۳.پوښتنه: رسول الله صلی الله علیه وسلم د ځوانۍ په لومړيو کې له چا سره سوداګري کوله؟

۳۳.ځواب: له حضرت خديجې (رضی الله عنها) سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۴.پوښتنه: د سوداګرۍ له لومړي سفر نه څومره وخت وروسته یې له حضرت خدیجې (رضی الله عنها) سره واده وکړ؟
۳۴.ځواب: کله چې له شام نه راستون شو ۲ میاشتې او ۲۵ ورځې وروسته .
۳۵.پوښتنه: هغه کوم پیغمبر و چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د پیدایښت نه مخکې خلکو ته د هغه صلی الله علیه وسلم په اړه زیري ورکاوه؟
۳۵.ځواب: هغه حضرت عیسي (علیه الصلوة و السلام )و.
۳۶.پوښتنه: په لومړي ځل وحې کله شروع شوه؟
۳۶.ځواب: د رمضان میاشتې ۲۱ مه، د دوشنبې شپه چې د ۶۱۰م کال د اګست له لسمې سره سمون خوري.
۳۷.پوښتنه: د بعثت له پېښې نه وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم څه وکړل؟
۳۷.ځواب: د هغه زړه رپیده هک پک کور ته راستون شو او خدیجې (رضی الله عنها) ته یې وویل ما ونغاړئ، ما ونغاړئ په څادر کې مې پټ کړئ توله کیسه یې خدیجې (رضی الله عنها) ته وکړه.
۳۸.پوښتنه: خدیجې (رضی الله عنها) څه وکړل؟
۳۸.ځواب: رسول الله صلی الله علیه وسلم یې ورقه بن نوفل ته ور ووست او هغه یې له کیسې نه خبر کړ.
۳۹.پوښتنه: ورقه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته څه وویل ؟
۳۹.ځواب: په تا باندې جبراییل علیه الصلوة و السلام نازل شوی، همغه ملایکه چې موسی (علیه الصلوة والسلام) باندې نازله شوې وه او ته پیغمبرۍ ته رسیدلی یې.
۴۰.پوښتنه: ورقه بن نوفل د خدیجې (رضی الله عنها) څه کیده؟
۴۰.ځواب: د تره زوی یې و.
۴۱.پوښتنه: وحې په څو ډوله ده؟
۴۱.ځواب: ۱. ریښتینی خوب. ۲.د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زړه کې به وحې وراچول کیده چې فرښته به یې نه لیدله ۳.فرښته د سړي په شکل راتله. ۴.وحي به ګړونګي د آواز په شان راتله. ۵. فرښته به په خپل اصلي شکل

(c) ketabton.com: The Digital Library



وحي راوړله. ۶.د معراج په شپه الله تعالی رسول الله ﷺ ته وحي کړیده. ۷.د رسول الله ﷺ الله تعالی په مستقیم ډول بلاواسطه خبرې.

۴۲.پوښتنه: د رسول الله ﷺ د دعوت ټوله موده بیان کړئ؟

۴۲.ځواب: مکي دور تقریبا دریالس(۱۳) کاله او مدني دور پوره لس(۱۰) کاله .

۴۳.پوښتنه: د رسول الله ﷺ پټ دعوت (بلنه) څو کاله وه؟

۴۳.ځواب: درې کاله.

۴۴.پوښتنه: په لومړیو کې کومو وګړو په رسول الله ﷺ باندې ایمان راوړ؟

۴۴.ځواب: ابوبکرصدیق، علي، زید بن حارث، خدیجه او بلال (رضی الله عنهم) .

۴۵.پوښتنه: رسول الله ﷺ او د هغه ملګري د چا په کورکې سره راټولېدل؟

۴۵.ځواب: د ارقم (رضی الله عنه) په کورکې.

۴۶.پوښتنه: په هغه وخت کې چې دعوت پټ و دوی څرنګه د خدای پاک عبادت کاوه؟

۴۶.ځواب: رسول الله ﷺ او د هغه صحابه کرام (رضی الله عنهم) درو او خوړونو ته تلل او هلته به یې له خپل قوم نه پټ لمونځ اداء کاوه.

۴۷.پوښتنه: څه وخت یې خپل دعوت ښکاره کړ؟

۴۷.ځواب: کله چې د مسلمانانو شمېر دېرشو(۳۰) تنو ته ورسېد پیغمبر ﷺ ته حکم وشو چې خپله بلنه ښکاره کړي ( فاصدع بما تومر و اعرض عن المشرکین)الحجر:۱.

۴۸.پوښتنه: ښکاره دعوت یې څنګه پیل کړ؟

۴۸.ځواب: د صفا غونډۍ ته وخوت او په لوړ آواز یې وفرمایل ( یا صباحاه)! ددې غږ په اوریدو سره د قریشو خلک راټول شول د یو الله (جل جلاله) عبادت ته یې را وبلل.

۴۹.پوښتنه: ابولهب څه غبرګون وښود؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۹.ځواب: چيغه يې ووهله، هلاک شې محمده: د دې خبرې لپاره دې مونږ راټول کړو؟

۵۰.پوښتنه: د رسول الله ﷺ ملګرو ته د مشرکينو د اذيت او ځوريدنې يو مثال بيان کړئ؟

۵۰.ځواب: اميه بن خلف به بلال حبشي چې خپل غلام يې و.په سخته ګرمۍ کې به يې بېرون يووړ او په ګرمو شګو کې به يې شا په تخته څملوه او په ګېډه به يې سره تيږه ورته کېښوده او ويل به يې چې يا خو د خدای له عبادت نه لاس واخله يا به همداسې ربړول کېږې.

۵۱.پوښتنه: مشرکينو د رسول الله ﷺ تره ته کوم وړانديز وکړ؟

۵۱.ځواب: درسول الله ﷺ تره ته ورغلل او ويې ويل ستا وراره زمونږ پر خدايانو بد وايي او مونږ ناپوه او بې عقله ګڼي که نجونې غواړي نو تر ټولو غوره نجونې ده ته ورکړو او که مال غواړي نو هغه به هم ورکړو خوپه دې شرط چې له خپل دعوت نه لاس واخلي.

۵۲.پوښتنه: رسول الله ﷺ په ځواب کې څه وويل ؟

۵۲.ځواب: په خدای سوګند که ښي لاس کې راته لمر او کين لاس کې راته سپوږمۍ کيږدي له خپل دعوت نه به لاس وانخلم.

۵۳.پوښتنه: د رسول الله ﷺ کله چې دعوت پټ و مرکز يې کوم ځای و؟

۵۳.ځواب: د ارقم بن ارقم المخزومي کور.

۵۴.پوښتنه: رسول الله ﷺ به د خپل دين د دعوت لپاره له کوم فرصت نه ګټه اخيسته؟

۵۴.پوښتنه: کله به چې د حرامومياشتو کې حاجيان مکې ته راتلل. اسلام به يې هغوی ته وړاندې کاوه.

۵۵.پوښتنه: کله چې د مشرکينو اذيت او ازار خپل اوج ته ورسېد رسول الله ﷺ څه وکړل؟

۵۵.ځواب: هغه خپلو ملګرو ته وويل له مکې نه حبشې ته هجرت وکړئ چې هلته عادل پاچا حکومت کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵۶.پوښتنه: حبشې ته د لومړي ځل لپاره څو تنو هجرت وکړ؟
۵۶.ځواب: د لومړي ځل لپاره ۱۲ سړيو او ۴ ښځو د حضرت عثمان تر مشرۍ لاندې هجرت وکړ.
۵۷.پوښتنه: حبشې ته هجرت په کوم کال کې وشو؟
۵۷.ځواب: د نبوت په پنځم کال د رجب په مياشت کې.
۵۸.پوښتنه: دويم ځل لپاره حبشې ته څو تنو هجرت وکړ؟
۵۸.ځواب: په دوهم ځل ۸۳ سړي او ۱۸ ښځې وې.
۵۹.پوښتنه: مشرکينو کوم کسان د مهاجرينو د ځارنې لپاره حبشې ته ولېږل؟
۵۹.ځواب: عمرو بن العاص او عبدالله بن ابی ربيعه چې دواړه پوه او ځيرک وو.
۶۰.پوښتنه: جعفر بن ابي طالب (رضی الله عنه) د حبشې پاچا نجاشي ته څه وويل؟
۶۰.ځواب: اې پاچا موږ د جاهليت په تيارو کې ژوند کاوه. د بتانو عبادت مو کاوه او مردارې به مو خوړلې، فساد او فحشاء د خپلوۍ اړيکې به مو شلولې خدای پاک زموږ له منځ نه موږ ته پيغمبر راولېږلو چې هغه موږ ته په امانتدارۍ او صله رحمۍ امر وکړ.
۶۱.پوښتنه: نجاشي د هغوی نه د څه پوښتنه وکړه؟
۶۱.ځواب: له هغوی نه يې د حضرت عيسی او مريم (عليهما السلام) په اړه پوښتنه وکړه.
۶۲.پوشتنه: جعفر بن ابي طالب (رضی الله عنه) څه ځواب ورکړ؟
۶۲.ځواب: د مريم د سورت څه برخه يې تلاوت کړه.
۶۳.پوښتنه: بالاخره د حبشې پاچا څه تصميم ونيو؟
۶۳.ځواب: هغه وژړل او ويې ويل (په خدای سوګند چې د سرو زرو د غره په عوض کې به هم دوی ور ونه سپارم.
.۶۴پوښتنه: حضرت حمزه (رضی الله عنه ) په کوم کال ايمان راوړ؟
۶۴. ځواب: د نبوت په شپږم کال د ذي الحجې په مياشت کې.
۶۵.پوښتنه: حضرت عمر (رضی الله عنه) په کوم کال کې ايمان راوړ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶۵.ځواب: د نبــوت په شپږم کــال د ذي الحجې په میــاشت کــې درې ورځــې وروستــه له حمزه (رضی الله عنه) نه.

۶۶.پوښتنه: کله چې مشرکین له ټولو لارونه مایوس او نااميد شول څه یې وکړل؟

۶۶.ځواب: په خپلو کې سره یوشول او تړون پاڼه یې ولیکله، په دې اساس چې (بنې هاشم او بنې مطلب) سره نه به په دوستۍ او خپلوۍ واده کوی نه به ورسره بیع کیږي، نه به ورسره خبرې کیږي او نه به یې څوک کورونو ته ورځي.

۶۷.پوښتنه: مشرکینو رسول الله ﷺ او د هغه ملګري چېرته تبعید کړل؟

۶۷.ځواب: د ابوطالب شعب ( دره خوړ) کې.

۶۸.پوښتنه: دغه محاصره په کوم کال کې وه؟

۶۸ .ځواب: د نبوت په اووم کال د محرم میاشت په لومړۍ شپه.

۶۹ .پوښتنه: دغې محاصرې څو کاله دوام وکړ؟

۶۹ .ځواب: درې(۳) کاله.

۷۰ .پوښتنه: دغه تړون کله مات شو؟

۷۰.ځواب: د بعثت په لسم کال د محرم په میاشت کې.

۷۱ .پوښتنه: عام الحزن د (غم کال) کوم کال ته وایې؟

۷۱ .ځواب: د بعثت لسم کال ته .

۷۲ .پوښتنه: ولې ورته د غم کال وایې؟

۷۲. ځواب: په همدې کال یې کاکا ابوطالب او بی بی خدیجه (رضی الله عنها) وفات شول.

۷۳ .پوښتنه: دې پیښې کومه اغېزه په رسول الله ﷺ باندې وکړه؟

۷۳ .ځواب: رسول الله ﷺ خپل غټ ملاتړي له لاسه ورکړل د خدیجې (رضی الله عنها) په مړینې یې خپل د دردونو اراموونکی له لاسه ورکړ.

۷۴. پوښتنه: خدیجه (رضی الله عنها) په څو کلنۍ کې وفات شوه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷۴ .ځواب: د ۶۵ کلنۍ په عمر د بعثت په لسم کال د رمضان په میاشت کې.

۷۵.پوښتنه: رسول الله ﷺ ولې طایف ته ولاړ؟

۷۵.ځواب: د خدای لور ته د خلکو د بلنې لپاره؟

۷۶ .پوښتنه: د طایف خلکو څرنګه د رسول الله ﷺ استقبال وکړ؟

۷۶ .ځواب: هغوی نه یواځې دا چې د هغه بلنه یې ونه منله بلکې خپل ماشومان یې هغه پسې ولېږل چې په کاڼو یې وولي چې په دې سره د رسول الله ﷺ پښې مبارکې له وینو څخه ډکې شوې.

۷۷ .پوښتنه: طایف له مکې نه څومره لېرې دی؟

۷۷ .ځواب: د مکې نه تقریبا شپېته میله لېرې دی.

۷۸ .پوښتنه: رسول الله ﷺ پخپل امت باندې له کوم خطرڅخه په ویره کې و ؟

۷۸ .ځواب: له دنیا پالنې او په دنیا کې له سیالۍ رسول الله ویلي دي (دا چې له مانه وروسته به تاسې په شرک باندې اخته شئ کومه ویره نلرم: اما له دې نه ویریږم چې لکه پخوانیو قومونو غوندې به د دنیا په لاسته راوړلوکې سره په سیالیو شی.

۷۹ .پوښتنه: د طایف په سفر کې د رسول الله ﷺ ملګری څوک و؟

۷۹.ځواب: د رسول الله ﷺ آزاد کړی شوی غلام زید بن حارثه.

۸۰ .پوښتنه: رسول الله ﷺ څو ورځې په طایف کې پاتې شو؟

۸۰ .ځواب: رسول الله ﷺ لس ورځې په طایف کې پاتې شو.

۸۱ .پوښتنه: ایا د طایف په خلکو کې کوم یو مسلمان شو؟

۸۱ .ځواب: هو د (عداس) په نوم یو نصراني غلام چې د عتبه او شیبه باغوان و. مسلمان شو.

۸۲ .پوښتنه: د هغو قبیلو نومونه واخلئ چې اسلام ته رابلل شوي وی؟

۸۲ .ځواب: بنو عامر بن صعصعه، محارب بن خصفه، فزاره،غسان، مره،حنیفه، سلیم،عبس، بنونصر، بنوالبکاء، حارثه بن کعب، عذره،حضارمه، له دې ټولونه یوه هم په اسلام مشرف نه شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸۳ .پوښتنه: د معراج واقعه په کوم کال پېښه شوه؟
۸۳ .ځواب: د نبوت په لسم کال د رجب میاشت کې.
۸۴ .پوښتنه: د رسول الله صلی الله علیه وسلم د معراج سفر په لنډ ډول بیان کړئ؟
۸۴ .ځواب: جبراییل (علیه الصلوة والسلام) په نوراني څېره او په براق باندې سپور په نیمه شپه کې پیغمبر صلی الله علیه وسلم راویښ کړ او مسجد الحرام خواته ولاړل، هلته د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارکه سینه څیرې شوه او د زمزم په اوبو سره وویندل شوه او بیا دواړه په براق باندې سپاره شول او له مسجد الحرام نه مسجد الاقصی خواته ولاړل او بیا له هغه ځای نه آسمانونو ته پورته وختل.
۸۵ .پوښتنه: په پیل کې چا د رسول الله صلی الله علیه وسلم تصدیق وکړ؟
۸۵ .ځواب: حضرت ابوبکر صدیق (رضی الله عنه).
۸۶ .پوښتنه: رسول الله صلی الله علیه وسلم له معراج نه خپل امت ته څه شی په ډالۍ کې راوړل ؟
۸۶ .ځواب: پنځه لمونځونه ، د بقرې سورت وروستني ایاتونه او له شرک نه پرته د ګناهونو بخښنه.
۸۷ .پوښتنه: د عقبې لومړی تړون په کوم کال کې ترسره شو؟
۸۷ .ځواب: د نبوت په یوولسم کال د حج په موسم کې.
۸۸. پوښتنه: د عقبې لومړی تړون کوم تړون ته وایي؟
۸۸. ځواب: رسول الله صلی الله علیه وسلم د حج په ورځو کې خلک د خدای لوري ته بلل شپږ تنه چې د مدینې اوسیدونکي وو د عقبې سره په څنګ کې یې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره لیدنه وکړه او له هغه صلی الله علیه وسلم سره تړون وکړ چې له خدای (جل جلاله) سره به شرک نه کوي او ناروا کارونه به نه کوي.
۸۹. پوښتنه: د عقبې دوم تړون په کوم کال کې ترسره شو؟
۸۹. ځواب: د نبوت په دیارلسم کال د حج په موسم کې.
۹۰. پوښتنه: د عقبې دوم تړون کوم تړون ته وایي؟
۹۰. ځواب: د مدینې منورې تقریبا (۷۵) تنو مسلمانانو چې دوه (۲)یکې ښځې وې په پټ ډول د عقبې په خوا کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ملاقات

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړ رسول الله ﷺ د هغوی له مینځ نه دوولس تنه نماینده ګان وټاکل چې څنګه خپل قوم ته ورسېږي نو هغوی دې اسلام ته راوبلي.

.۹۱ پوښتنه: کله چې مشرکینو ولیدل چې د مسلمانانو شمېر ورځ په ورځ زیاتېږي څه یې وکړل؟

۹۱. ځواب: هغوی تصمیم ونیولو چې د مسلمانانو رهبر رسول الله ﷺ له منځه یوسي.

۹۲. پوښتنه: په کوم ځای کې یې تصمیم ونیولو؟

۹۲. ځواب: هغوی په ( دارالندوه) کې په سلا او مشوره شول.

۹۳. پوښتنه: ابو اسود کوم ډول وړاندیز وکړ؟

۹۳. ځواب: چې رسول الله ﷺ له خپل وطن نه به یې وشاړو چې چرته ځي لاړ دې شي.

۹۴. پوښتنه: ابوالبختري کوم وړاندیز وکړ؟

۹۴. ځواب: رسول الله ﷺ به د اوسپنې په پنجرو کې بند کړو، تر څو د پخوانیو شاعرانو په څیر مړ شي.

۹۵. پوښتنه: ابوجهل کوم وړاندیز وکړ؟

۹۵. ځواب: مونږ به د هرې قبیلې نه یو یو غښتلی، تکړه او دښه نسب خاوند ځوان غوره کړو. دوی ټولو ته به توره ورکړو او د رسول الله ﷺ د مرګ لپاره به یې واستوو، ټول به یوځای ورباندې ګوزار وکړي او په قتل به یې ورسوي نو موږ به ورنه بیغمه شو، خون به یې په ټولو قبیلو وویشل شي، عبدمناف به وس ونه لري چې ټولو سره جګړه وکړي نو دیت ته به مجبور شي دیت به ورکړو.

۹۶. پوښتنه: رسول الله ﷺ څرنګه له دې توطئې او دسیسې نه خبر شو؟

۹۶. ځواب: د وحی او جبراییل (علیه الصلوة والسلام) په واسطه.

۹۷. پوښتنه: رسول الله ﷺ له دې توطئې سره د مبارزې لپاره څه وکړل؟

۹۷.ځواب: رسول الله ﷺ مدینې منورې ته د هجرت تصمیم ونیو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹۸. پوښتنه: کله چې رسول الله ﷺ له خپل کور نه د بېرون وتلو پر مهال وکتل چې مشرکين د هغه د کور د دروازې په شا وخوا راټول دي څه يې وکړل؟

۹۸. ځواب: يو موټی خاوره يې را واخيسته او د هغوی خواته يې وشيندله او هغو رسول الله ﷺ ونه ليدلو.

۹۹. پوښتنه: رسول الله ﷺ چا ته وويل چې زما پرځای ويده شه ؟

۹۹. ځواب: د ابو طالب زوی علی (رضی الله عنه) ته .

۱۰۰ .پوښتنه: رسول الله ﷺ په کومه نيټه له کوره ووت؟

۱۰۰. ځواب: رسول الله ﷺ د نبوت په څوارلسم کال د صفر د مياشتې په ۲۷مه، شپه له خپل کوره ووت.

۱۰۱. پوښتنه: چا د رسول الله ﷺ سره يوځای هجرت وکړ؟

۱۰۱. ځواب: حضرت ابوبکر صديق (رضی الله عنه).

۱۰۲. پوښتنه: رسول الله ﷺ او ابوبکرصديق په کوم غار کې پټ شول؟

۱۰۲. ځواب: د ثورغار کې .

۱۰۳. پوښتنه: څو شپې يې په غار کې وکړې؟

۱۰۳. ځواب: درې شپې د جمعې،هفتې او يکشنبې شپه په غار کې ول.

۱۰۴. پوښتنه: د خوراک ترتيب به چا ورته برابر و؟

۱۰۴. ځواب: د ابوبکرصديق(رضی الله عنه) غلام (عامر بن فهيره) رمه به يې غار خولې ته راوستله دواړو ملګرو به شيدې څښلې او ويده کيدل به.

۱۰۵. پوښتنه: قريشو د دوی پر سر څومره جايزه اعلان کړه؟

۱۰۵. ځواب: د هر يوه په بدل کې يې سل اوښان جايزه اعلان کړې وه.

۱۰۶. پوښتنه: رسول الله ﷺ دچا سره خبره کړې وه چې په صحرايي لارو بلد و؟

۱۰۶. ځواب: له عبدالله بن اريقط الليثي سره په هغه وخت کې مشرک و.

۱۰۷.پوښتنه: رسول الله ﷺ په کومه نېټه باندې قباء ته ورسېده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰۷. ځواب: د دوشنبې په ورځ د نبوت ۱۴ د هجرت لومړنی کال د ربیع الاول په اتمه.

۱۰۸. پوښتنه: رسول الله ﷺ په قباء کې څو ورځې تیرې کړې؟

۱۰۸. ځواب: څلور ورځې (دوشنبه، سه شنبه، چهارشنبه، پنجشنبه).

۱۰۹. پوښتنه: رسول الله ﷺ په دې ځای کې د کوم مسجد ډبره کېښوده؟

۱۰۹. ځواب: د مسجد قباء او لمونځ یې هم پکې ادا کړ.

۱۱۰. پوښتنه: مدینې ته د رسول الله ﷺ له ورتللو نه مخکې کوم نوم اخستل کیده؟

۱۱۰. ځواب: ( یثرب ) ورته ویل کیده چې کله رسول الله ﷺ ورغی نوم یې مدینة الرسول شو.

۱۱۱. پوښتنه: هر چا غوښتل چې رسول الله ﷺ میلمه کړي هغه څه وویل؟

۱۱۱. ځواب: رسول الله ﷺ وفرمایل اوښه پریږدئ دا ماموره شویده.

۱۱۲. پوښتنه: د رسول الله ﷺ اوښه چېرته چو شوه؟

۱۱۲. ځواب: کله چې د مسجد نبوي ځای ته ورسیده .

۱۱۳. پوښتنه: رسول الله ﷺ په مدینه کې د چا په کور کې تم شو؟

۱۱۳. ځواب: د ابو ایوب الانصاري (رضی الله عنه) .

۱۱۴. پوښتنه: په مدینه کې د یهودانو د دری مشهورو قبیلو نومونه واخلئ؟

۱۱۴. ځواب: بنو قینقاع، بنو نضیر، بنو قریظه.

۱۱۵. پوښتنه: په مدینه کې د رسول الله ﷺ لومړنی کار څه و؟

۱۱۵. ځواب: لومړنی کار یې د نبوي مسجد جوړول و.

۱۱۶. پوښتنه: رسول الله ﷺ په مدینه کې لومړۍ خبرې کومې وې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۱۶. ځواب: اې خلکو سلام خور کړئ، خواړه  ورکړئ، صله رحمې کوئ  او د شپې هغه وخت لمونځ کوئ چې خلک ویده وي جنت ته به داخل شی.
۱۱۷. پوښتنه: مسلمانانو ته د جنګ اجازه کله وشوه؟
۱۱۷. ځواب: له هجرت نه وروسته په مدینه کې.
۱۱۸.پوښتنه:  په مسلمانانو کله جنګ فرض شو؟
۱۱۸. ځواب: دویم هجري کال د شعبان په میاشت کې
۱۱۹. پوښتنه: له بدر نه مخکې کومه غزا ګانې شوې دي؟
۱۱۹.ځواب: د ابواء یا ودان غزا د هجرت ۲ کال د صفر په میاشت کې د بواط غزا د ربیع الاول په میاشت کې د سفوان غزا د ربیع الاول میاشت کې د ذي العشیره غزا د جمادي الاول په میاشت کې.
۱۲۰.پوښتنه: الله (جل جلاله) په کوم کال قبله له بیت المقدس نه کعبه شریفه اعلان کړه؟
۱۲۰. ځواب: د هجرت په دوهم کال د شعبان په میاشت کې.
۱۲۱. پوښتنه: د رسول الله صلی الله علیه وسلم لومړی غزا کومه یوه وه؟
۱۲۱. ځواب: د بدر غزا چې خدای پاک په یوم الفرقان سره یاده کړې ده.
۱۲۲. پوښتنه: په دې جنګ کې د مشرکینو کوم مشران ووژل شول؟
۱۲۲.ځواب: ابوجهل (ابوالحکم) ،عتبه ،شیبه ،او امیه بن خلف .
۱۲۳. پوښتنه: د مسلمانانو د شهیدانو او د کافرانو د وژل شویو شمېرڅومره وو؟
۱۲۳. ځواب: له مسلمانانو نه ۱۴ تنه شهیدان او د کافرانو څخه ۷۰ تنه ووژل شول.
۱۲۴. پوښتنه: د بدر په غزا کې د مسلمانانو او کافرانو شمېر څومره و؟
۱۲۴. ځواب: د مسلمانانو شمېر (۳۱۳) او د کافرانو شمېر تر (۱۰۰۰) رسیده.
۱۲۵. پوښتنه: د جنګ په پیل کې چې  عتبه، شیبه او ولید وو چا مقابله وکړه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲۵. ځواب: عبیده بن حارث، حمزه، او علی (رضی الله عنهم) مقابلې ته ور ووتل.

۱۲۶. پوښتنه: د بدر د غزا نه وروسته چا د رسول الله ﷺ د قتل قصد وکړ؟

۱۲۶. ځواب: عمیر بن وهب جمحي خو کله چې رسول الله ﷺ ته ورغې نو مسلمان شو.

۱۲۷. پوښتنه: کعب بن اشرف منافق چا ووژه؟

۱۲۷. ځواب: محمد بن مسلمه او رضاعي ورور يې ابو نائله.

۱۲۸. پوښتنه: روژه او صدقه الفطر کله فرض شوه؟

۱۲۸. ځواب: د هجرت په دويم کال د شعبان په مياشت کې.

۱۲۹. پوښتنه: د احد غزا په کوم کال کې پېښه شوه؟

۱۲۹. ځواب: د هجرت په درېيم کال د شوال په مياشت کې.

۱۳۰. پوښتنه: د قريشو د لښکرشميرڅومره و؟

۱۳۰. ځواب: دری زره (۳۰۰۰) کسان.

۱۳۱.پوښتنه: د احد په غزا کې د مسلمانانو شمير څومره و؟

۱۳۱. ځواب: اوه سوه (۷۰۰) تنه و.

۱۳۲. پوښتنه: رسول الله ﷺ د احد په ورځ تيره توره چا ته ورکړه چې حق ادا کړه؟

۱۳۲. ځواب: ابودُجانه سماک بن خَرشة ته .

۱۳۳. پوښتنه: د رسول الله ﷺ تره حضرت حمزه (رضی الله عنه) په کومه غزا کې په شهادت ورسېده او د چا لخوا؟

۱۳۳ .ځواب: د احد په غزا کې د وحشي بن حرب لخوا.

۱۳۴. پوښتنه: د احد په غزا کې د مشرکينو لخوا قمندان څوک و؟

۱۳۴. ځواب: ابوسفيان صخر بن حرب.

۱۳۵. پوښتنه: د مسلمانانو لخوا د غشي ويشتونکو قمندان څوک و؟

۱۳۵. ځواب: عبدالله بن جبير (رضی الله عنه).

۱۳۶. پوښتنه: د احد په جنګ کې د مشرکينو کومه اوازه خپره کړه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳۶. ځواب: د رسول الله ﷺ د شهادت اوازه.
۱۳۷. پوښتنه: د احد په غزا کې د رسول الله ﷺ کوم غاښ شهيد شو؟
۱۳۷. ځواب: د رسول الله ﷺ لاندينی ښی رباعي غاښ.
۱۳۸. پوښتنه: د رسول الله ﷺ مبارک غاښ کوم مشرک شهيد کړ؟
۱۳۸. ځواب: عتبه بن ابي وقاص.
۱۳۹. پوښتنه: د احد په ميدان کې کومو غازيانو تر اخره پورې د رسول الله ﷺ نه دفاع وکړه؟
۱۳۹. ځواب: طلحه بن عبيدالله او سعد بن ابي وقاص (رضی الله عنهم).
۱۳۰. پوښتنه: د احد په جنګ کې څو تنه مسلمانان شهيدان شول؟
۱۳۰. ځواب: اويا (۷۰) تنه.
۱۳۱. پوښتنه: په دې جنګ کې د مشرکينو د مړو شمېرڅومره و؟
۱۳۱. ځواب: ( ۲۲) تنه په بل روايت کې ۳۷ تنه وژل شوي و.
۱۳۲. پوښتنه: د احزاب په غزا کې د کوم صحابي په مشوره رسول الله ﷺ د خندق ويستلو امر وکړ؟
۱۳۲. ځواب: د سلمان الفارسي (رضی الله عنه) په مشوره.
۱۳۳. پوښتنه: د احزاب (خندق) په غزا کې د دواړو لښکرو نه څو کسه ووژل شول؟
۱۳۳. ځواب: شپږ مسلمانان شهيدان شول او لس مشرکين ووژل شول.
۱۳۴. پوښتنه: د بنی قريظه په غزا کې سعد بن معاذ د يهودو په هکله کوم ډول فيصله وکړه؟
۱۳۴. ځواب: نارينه يې بايد ووژل شي اولادونه او ښځې دې اسيران کړی شي او مالونه دی وويشل شي.
۱۳۵. پوښتنه: بنی قريظه غزا په کوم کال کې شوې ده؟
۱۳۵. ځواب: د هجرت په پنځم کال د ذي القعدې په مياشت کې.
۱۳۶. پوښتنه: د بنی قريظه کلابندئ څو ورځي دوام وکړ؟
۱۳۶. ځواب: کلابندئ ۲۵ ورځې دوام وکړ.
۱۳۷. پوښتنه: د بنی المصطلق غزا په کوم کال کې پېښه شوه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳۷. ځواب: شپږم د هجرت د شعبان په میاشت کې.
۱۳۸. پوښتنه: د رسول الله صلی الله علیه وسلم د نومونو څخه څو نومونه بیان کړئ؟
۱۳۸. ځواب: محمد، احمد، الماحی، الحاشر، العاقب، المقضی صلی الله علیه وسلم .
۱۳۹. پوښتنه: په کومه غزا کې منافقینو د افک داستان جوړ کړ؟
۱۳۹. ځواب د بنی المصطلق په غزا کې.
۱۴۰. پوښتنه: په کومه غزا کې ام المؤمنین جویریه (رضی الله عنها) ونیول شوه او رسول الله محمد صلی الله علیه وسلم هغه وپېژنله او ازاده یې کړه او بیا نکاح کړه؟
۱۴۰. ځواب: د بنی المصطلق په غزا کې.
۱۴۱. پوښتنه: الله (جل جلاله) د افک پیښې په باره کې څو ایاتونه نازل کړل؟
۱۴۱. ځواب: لس (۱۰) ایاتونه .
۱۴۲. پوښتنه: د افک په پیښه کې څو صحابه په دُرو ووهل شول؟
۱۴۲. ځواب: دری صحابه ۱ مسطح بن اثاثه، ۲ حسان بن ثابت، ۳ حمنه بنت جحش (رضی الله عنهم)
**۱۴۳.** پوښتنه: د حدیبیې صلح په کوم کال کې وشوه؟
۱۴۳. ځواب: په شپږم هجری کال د ذي القعدې په میاشت کې.
۱۴۴. پوښتنه: مشرکینو حرم شریف د مسلمانانو پرمخ څو کاله تړلی و؟
۱۴۳. ځواب: پوره شپږ کاله .
۱۴۵. پوښتنه: د دویرې لمونځ (صلاة خوف) حکم کله نازل شو؟
۱۴۵. ځواب: د د هجرت په شپږم کال د مازدیګر د لمانځه په مهال.
۱۴۶. پوښتنه: په حدیبیه کې د مسلمانانو لخوا سفیر چې قریشو ته واستول شو څوک و؟
۱۴۶. ځواب: حضرت عثمان بن عفان (رضی الله عنه)
**۱۴۷.** پوښتنه: په حدیبیه کې کوم صحابی د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره دری ځلی په مرګ بیعت وکړ؟
۱۴۷. ځواب: سلمه بن اکوع (رضی الله عنه).
۱۴۸. پوښتنه: د حدیبیې د سولی په تړون کې څو مادی وې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۴۸. ځواب: ځلور مادی وی.
۱۴۹. پوښتنه: د حدیبیې له سولې نه وروسته کوم ایت نازل شو؟
۱۴۹. ځواب: (انا فتحنا لک فتحا مبینا)الفتح:۱
۱۵۰. پوښتنه: د ونې لاندې یې چې بیعت وکړد رسول الله ﷺ سره څو نفره ول؟
۱۵۰. ځواب: څوارلس سوه ( ۱۴۰۰) تنه و.
۱۵۱.پوښتنه: رسول الله ﷺ کومو پاچاهانو ته لیکونه واستول؟
۱۵۱. ځواب: د حبشی پاچا نجاشی ته، د مصر پاچا مقوقس ته، د فارس پاچا کسری ته، د روم پاچا قیصر ته، منذر بن ساوی ته، د یمامه پاچا هوذه بن علی ته، د دمشق مشر حارث بن ابی شمر غسانی ته، او د عمان پاچا ته .
.۱۵۲ پوښتنه: د خیبر غزا په کوم کال پیښه شوه؟
۱۵۲. ځواب: د هجرت په اووم کال د محرم په میاشت کې.
۱۵۳. پوښتنه: د خیبر په غزا کې رسول الله ﷺ بیرغ چاته ورکړ؟
۱۵۳. ځواب: حضرت علی (رضی الله عنه) ته.
۱۵۴. پوښتنه: حضرت علی (رضی الله عنه) څه وویل ؟
۱۵۴ .ځواب: یا رسول الله ﷺ تر هغې به وجنګیږم تر څو زموږ په شان مسلمانان شي.
۱۵۵.پوښتنه: رسول الله ﷺ علی (رضی الله عنه) ته څه وویل ؟
۱۵۵. ځواب: قسم په خدای که الله (جل جلاله) ستا په لاس یوه سړي ته هدایت وکړي نو دا له سرو اوښانو نه درته غوره دی.
۱۵۶ .پوښتنه: د مرحب مقابلې ته څوک راووته؟
۱۵۶. ځواب: حضرت علی (رضی الله عنه) او مرحب یې ووژه.
۱۵۷ .پوښتنه: د مرحب د ورور یاسر مقابلې ته څوک راووته؟
۱۵۷. ځواب: حضرت زبیر (رضی الله عنه) یاسر هم وواژه.
۱۵۸.پوښتنه: سنت څه ته وایي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۵۸ ځواب: د رسول الله ﷺ په قول، وينا او عمل باندې د سنت اطلاق کيږي.

۱۵۹. پوښتنه: صفيه د چا لور وه؟

۱۵۹. ځواب: د حيي بن اخطب لور وه.

۱۶۰. پوښتنه: د خيبر د فتح نه وروسته چا رسول الله ﷺ ته زهر ورکړل؟

۱۶۰. ځواب: د سلام بن مشکم ښځې زينب بنت حارث .

۱۶۱. پوښتنه: د خيبر په غزا کې د شهيدانو او د يهودو د مړو شمير څومره و؟

۱۶۱. ځواب: د شهيدانو شمير ۱۶ تنه و او ديهودو دمړو شمير۹۳ تنه و.

۱۶۲. پوښتنه: د ذات الرقاع غزا په کوم کال کې پيښه شوه؟

۱۶۲. ځواب: په اووم هجرى کال د ربيع الاول به مياشت کې.

۱۶۳. پوښتنه: دغې غزا ته ولې ذات الرقاع وايي؟

۱۶۳. ځواب: ځکه چې صحابو (رضی الله عنهم) پښې په ټوټو کې پټولې ( د ټوټو او پيوندونو جګړه )

۱۶۴. پوښتنه: په ذات الرقاع غزا کې چا د رسول الله ﷺ د وژلو قصد وکړ؟

۱۶۴. ځواب: يو اعرابي چې نوم يې دعثور و.

۱۶۵. پوښتنه: هغه کوم کس و چې اسامه (رضی الله عنه) وواژه په خوله کليمه ويله بيا رسول الله ﷺ ورته وويل چې تا يې سينه چاک کړې وه چې دروغ وايي؟

۱۶۵. ځواب: نهيک بن مرداس.

۱۶۶. پوښتنه: رسول الله ﷺ قضايي عمره کله ادا کړه؟

۱۶۶. ځواب: د هجرت په اووم کال د ذی القعدې په مياشت کې.

۱۶۷. پوښتنه: د عمرې کوونکو شمېر څومره و؟

۱۶۷. ځواب: د ټولو شمېر دوه زره کسان و.

۱۶۸. پوښتنه: رسول الله ﷺ له کوم ځای نه احرام وتاړه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۶۸. ځواب: د ذي الحليفه نه.
۱۶۹. پوښتنه: رسول الله ﷺ څو ورځې په مکه کې تيرې کړې؟
۱۶۹. ځواب: درې ورځې په څلورمه ورځ سهار يې حرکت وکړ.
۱۷۰. پوښتنه: د څو کتابونو نومونه واخلئ چې د رسول الله ﷺ احاديث او خبرې پکې راټولې شوي وي؟
۱۷۰. ځواب: صحيح بخاري، صحيح مسلم سنن ترمذي، سنن نسايي، ابوداود،او ابن ماجه.
۱۷۱. پوښتنه: دغې عمرې ته څو نومونه اخيستل شوي؟
۱۷۱. ځواب: څلور نومونه ۱ قضاء ۲ قضيه ۳ قصاص ۴ صلح.
۱۷۲. پوښتنه: د مؤته جګړه په کوم کال ترسره شوه؟
۱۷۲. ځواب: د هجرت په اتم کال د جمادي الاول په مياشت کې.
۱۷۳. پوښتنه: په دې جنګ کې د مسلمانانو شمير او د کفارو شمير څومره و؟
۱۷۳. ځواب: د مسلمانانو شميردرې زره او کفارو شمير دوه لکه و.
۱۷۴. پوښتنه: په دې جګړه کې د لښکر مشران څوک ول؟
۱۷۴. ځواب: زيد بن حارثه که چيرته شهيد شو نو پرځای دې جعفربن ابی طالب که هغه هم شهيد شو پرځای دې عبدالله بن رواحه (رضی الله عنهم).
۱۷۵. پوښتنه: جعفر (رضی الله عنه) ولې په ذي جناحين سره شهرت لري؟
۱۷۵. ځواب: ځکه چې الله تعالی د لاسونو په بدل کې ورته په جنت کې دوه وزرونه ورکړل.
۱۷۶. پوښتنه: په دې جګړه کې د مسلمانانو د شهيدانو شمير څومره و؟
۱۷۶. ځواب: دولس مسلمانان په شهادت رسيدلی و.
۱۷۷. پوښتنه: چا قريشو ته په پټه ليک وليږه چې رسول الله ﷺ مکې ته د تګ اراده لري؟
۱۷۷. ځواب: حاطب بن بلعته (رضی الله عنه).
۱۷۸. پوښتنه: ليک يې په کومه طريقه وليږه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۷۸. ځواب: یوی (ساره) نومي ښځې ته د اجرت په بدل کې وړه هغې په خپلو کوڅیو کې پټ کړی و.

۱۷۹. پوښتنه: د دغه لیک د راوړلو دنده رسول الله صلی‌الله علیه‌وسلم چا ته ورکړه؟

۱۷۹. ځواب: علي او مقداد (رضی الله عنهما) ته.

۱۸۰. پوښتنه: رسول صلی‌الله علیه‌وسلم له مدینې سره د لښکر په کوم کال مکې ته حرکت وکړ؟

۱۸۰. ځواب: د هجرت په اتم کال د روژې په لسمه نیټه له مدینې نه حرکت وکړ .

۱۸۱. پوښتنه: رسول الله صلی‌الله علیه‌وسلم چې مکی ته تله څومره ملګري ورسره و؟

۱۸۱. ځواب: لس زره (۱۰۰۰۰) اصحاب (رضی الله عنهم) ورسره ملګري و.

۱۸۲. پوښتنه: د رسول الله صلی‌الله علیه‌وسلم تره عباس (رضی الله عنه) په کوم ځای کې ورسره مخامخ شو؟

۱۸۲. ځواب: په جحفه سیمه کې په داسی حال کې چې په اسلام مشرف شوی و.

۱۸۳. پوښتنه: ابوسفیان بن حارث د رسول الله صلی‌الله علیه‌وسلم د تره زوی په کوم کال مسلمان شو؟

۱۸۳. ځواب: د هجرت په اتم کال کله چې رسول الله صلی‌الله علیه‌وسلم مکې ته د تلو په حال کې و.

۱۸۴. پوښتنه: کله چې د ابوسفیان بن حارث ځنکدن و خلکو وربانديې ژړل ده څه وویل؟

۱۸۴. ځواب: ده ویل مه ژاړئ قسم په خدای چې د اسلام نه وروسته مې هیڅ د ګناه خبره په ژبه نه ده راوړې.

۱۸۵ .پوښتنه: اسلامي لښکر له مرالظهران نه مکې ته څه وخت حرکت وکړ؟

۱۸۵. ځواب: د هجرت په اتم کال د رمضان په اوولسمه د سه شنبې په ورځ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۸۶. پوښتنه: رسول الله ﷺ مخکې له دی چې مکې ته داخل شي څه يې وويل؟
۱۸۶. ځواب: څوک چې د ابوسفيان کورته داخل شو هغه په امن شو، چا چې د خپل کور دروازه ځان پسی بنده کړه هغه په امن شو، څوک چې مسجد حرام ته داخل شو هغه هم په امن شو.
۱۸۷. پوښتنه: مکې ته د داخليدو په وخت کې د رسول الله ﷺ بيرغ د چا سره و؟
۱۸۷. ځواب: د کينې خوا قمندان زبير بن عوام (رضی الله عنه) سره.
۱۸۸. پوښتنه: رسول الله ﷺ کله چې مکی ته داخل شو لومړی يې څه وکړل؟
۱۸۸. ځواب: لومړی يې ټول بتان نسکور کړل.
۱۸۹. پوښتنه: په مکه کې څومره بُتان وو؟
۱۸۹. ځواب: په مکه کې (۳۶۰) بُتان وو.
۱۹۰. پوښتنه: مخکې له فتح نه د کعبې شريفې کلياني د چا سره وې؟
۱۹۰. ځواب: له عثمان بن طلحه سره.
۱۹۱. پوښتنه: رسول الله ﷺ چې له کعبې نه راووته او قريش ليکې ليکې ناست و څه معامله يې ورسره وکړه؟
۱۹۱. ځواب: رسول الله ﷺ ورته وويل چې نن پر تاسو ملامتيا نشته ،ځئ آزاد ياست.
۱۹۲. پوښتنه: وروسته يې د کعبې شريفې کليانی چاته ورکړې او څه يې ورته وويل؟
۱۹۲. ځواب: عثمان بن طلحه ته او ورته يې وويل چې له ظالم نه پرته بل څوک يې درنه نه اخلي.
۱۹۳. پوښتنه: بلال (رضی الله عنه) آذان چيرته وکړ؟
۱۹۳. ځواب: د کعبې معظم په بام باندې.
۱۹۴. پوښتنه: د فتحې يا شکرانې لمونځ يې چيرته ادا کړ؟

۱۹۴. ځواب: د ام هانئ بنت ابي طالب په کور کې يې غسل وکړ بيا يې لمونځ ادا کړ.

۱۹۵. پوښتنه: رسول الله ﷺ د شکرانې لمونځ څو رکعته وکړ؟

۱۹۵. ځواب: اته رکعته چې د ضحی (د غرمې ) وخت و.

۱۹۶. پوښتنه: رسول الله ﷺ د فتحې په ورځ د څو مجرمينو د وژلو حکم صادر کړ؟

۱۹۶. ځواب: د نهو لويو مجرمينو.

۱۹۷. پوښتنه: د انصارو انديښنه وه چې د رسول الله ﷺ له خوا مکه فتح شو، څه فکر مو دی چې نور به موږ سره لاړشي؟

۱۹۷.ځواب: رسول الله ﷺ وويل الله تعالی ته پناه وړم، مرګ به مې له تاسې سره وي، او ژوند به مې هم تاسې سره وي.

۱۹۸ .پوښتنه: کله چې مکه فتحه شوه رسول الله ﷺ په کوم ځای کې بيعت واخيست؟

۱۹۸. ځواب: د صفا په غونډۍ ناست و بيعت يې اخيسته.

۱۹۹. پوښتنه: رسول الله ﷺ بيعت په څه واخيست؟

۱۹۹. ځواب: پدې بيعت درنه اخلم چې د الله تعالی سره به شريک نه نيسئ، غلا به نه کوئ، زنا به نه کوئ، خپل اولادونه به نه وژنئ، بهتان به نه کوئ، په نيکۍ کې به سرغړونه نه کوئ.

۲۰۰. پوښتنه: رسول الله ﷺ په مکه کې څو ورځې پاتې شو؟

۲۰۰. ځواب: نولس(۱۹) ورځې.

۲۰۱. پوښتنه: عزی نومي بُت د چا به لاس مات شو؟

۲۰۱. ځواب: د خالد بن وليد (رضی الله عنه) په لاس.

۲۰۲. پوښتنه: سواع نومي بُت د چا په لاس مات شو؟

۲۰۲. ځواب: د عمرو بن عاص (رضی الله عنه ) په لاس.

۲۰۳. پوښتنه: منات بُت د چا په لاس مات شو؟

۲۰۳. ځواب: د سعد بن زيد اشهلی (رضی الله عنه) په لاس.

۲۰۴. پوښتنه: د حنين غزا په کوم کال پيښه شوه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰۴. ځواب: د هجرت په آتم کال د شوال په میاشت کې.

۲۰۵. پوښتنه: د حنین په غزا کې د مسلمانانو شمېر څومره و؟

۲۰۵. ځواب: دولس(۱۲۰۰۰) زره تنه و.

۲۰۶. پوښتنه: د حنین په غزا کې د غنیمتونوشمېر څومره و؟

۲۰۶. ځواب: ۶۰۰۰ زره اسیرانې(وینځې) ۲۴۰۰۰ اوښان ،له څلوېښت زره نه زیات پسونه ،(۴۰۰۰) اوقیه نقره و.

۲۰۷. پوښتنه: دغه غنیمتونه یې په کوم ځای کې را ټول کړل؟

۲۰۷. ځواب: په جعرانه کې.

۲۰۸. پوښتنه: رسول الله ﷺ د دغو غنیمتونو د ساتلو امر چاته وکړ؟

۲۰۸. ځواب: مسعود بن عمروغفاري (رضی الله عنه) ته.

۲۰۹. پوښتنه: په اسیرانو ښځو کې د رسول الله ﷺ رضاعي خور شیما بنت حارث السعدیه هم وه هغې سره یې څه وکړل؟

۲۰۹ .ځواب: رسول الله ﷺ خپل څادر ورته وغوړاو شیماء ورباندې کیناستله بیا یې خپل قوم ته ولیږله.

۲۱۰. پوښتنه: د طائف غزا په کوم کال کې پېښه شوه؟

۲۱۰. ځواب: د هجرت په آتم کال د شوال په میاشت کې.

۲۱۱. پوښتنه: رسول الله ﷺ په جعرانه کې څو ورځې پاتې شو؟

۲۱۱. ځواب: لس (۱۰) ورځې.

۲۱۲. پوښتنه: مؤلفت القلوب کوم خلکو ته ویل کیده؟

۲۱۲. ځواب: د مکی مشران او سرداران او نور مخور چې نوي مسلمانان شوی وو.

۲۱۳.پوښتنه: له ویش نه انصار خفه شول ځکه هغوی ته څه نه و رسیدلي رسول الله ﷺ ورته څه وویل؟

۲۱۳. ځواب: رسول الله ﷺ ورته وویل چې خوشحاله نه یاست چې خلک له مالونو سره ځي او تاسو د الله تعالی رسول ﷺ سره خپلې مېنې ته ستانه شی بیا یې دعا وکړه انصارو ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۱۴. پوښتنه: د هوازن قبيلې نماينده ګان په داسې حال کې راغلل چې ټول مسلمان شوي وو د رسول الله ﷺ نه يې د څه غوښتنه وکړه؟

۲۱۴. ځواب: د د خپلو مالونو او بنديانو.

۲۱۵. پوښتنه: رسول الله ﷺ ورته وويل چې خپل مالونه درباندې ګران دي که ښځې او يا اولادونه؟

۲۱۵. ځواب: هغوی وويل چې خپل اولادونه او ښځې رسول الله ﷺ ورته ټول بندان آزاد کړل.

۲۱۶. پوښتنه: د غنيمتونو له ويش نه وروسته رسول الله ﷺ څه وکړل؟

۲۱۶. ځواب: رسول الله ﷺ عمره ادا کړه.

۲۱۷. پوښتنه: رسول الله ﷺ بيرته مدينې ته څه وخت ستون شو؟

۲۱۷. ځواب: د هجرت په آتم کال د ذي القعدې په ۲۴ مه نيټه.

۲۱۸. پوښتنه: رسول الله ﷺ په مکه مکرمه کې څوک خليفه وټاکه؟

۲۱۸. ځواب: عتاب بن اسيد (رضی الله عنه).

۲۱۹. پوښتنه: رسول الله ﷺ علی (رضی الله عنه) د کوم بُت د ويجاړولو لپاره وليږه او کومې قبيلې ته؟

۲۱۹. ځواب: د قلس نومې بُت او د طيې قبيلې ته.

۲۲۰. پوښتنه: د تبوک غزا په کوم کال کې پيښه شوه؟

۲۲۰. ځواب: د هجرت په نهم کال د رجب په مياشت کې.

۲۲۱. پوښتنه: منافقانودشراو توطئو لپاره په څه نامه اډه جوړه کړه؟

۲۲۱. ځواب: د جومات په نوم نومولی و (مسجدالضرار).

۲۲۲. پوښتنه: په دغه مسجد کې رسول الله ﷺ لمونځ وکړ؟

۲۲۲. ځواب: رسول الله ﷺ په دغه مسجد کې لمونځ ونه کړ.

۲۲۳. پوښتنه: رسول الله ﷺ د دغه مسجد په اړه څه حکم وکړ؟

۲۲۳. ځواب: رسول الله ﷺ د نړولو حکم وکړاو دغه مسجد يې وران کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۲۴. پوښتنه: د تبوک غزا د چا سره وه؟

۲۲۴. ځواب: د روميانو سره.

۲۲۵. پوښتنه: په دغې جګړه کې د کفارو شمير څومره و؟

۲۲۵. ځواب: څلويښت زره (۴۰۰۰۰) تنه و.

۲۲۶. پوښتنه: په دغې غزا کې د مسلمانانو شمېر څومره و؟

۲۲۶. ځواب: ديرش زره (۳۰۰۰۰) تنه و؟

۲۲۷. پوښتنه: د تبوک په غزا کې چا ډېر مال صدقه کړ؟

۲۲۷. ځواب: حضرت عثمان نهه سوه اوښان، سل آسونه، د طلا او نقرې حساب بيل و حضرت ابوبکر خپل ټول مال چې (۴۰۰۰)درهمه و او عمر د ټول مال نه نيم مال صدقه کړ (رضی الله عنهم).

۲۲۸ .پوښتنه: د تبوک غزا کې رسول الله ﷺ په مدينه کې څوک خليفه وتاکه؟

۲۲۸. ځواب: محمد بن مسلمه (رضی الله عنه).

۲۲۹. پوښتنه: رسول الله ﷺ د خپلې کورنۍ سرپرستي چا ته وسپارله؟

۲۲۹. ځواب: حضرت علي (رضی الله عنه) ته .

۲۳۰. پوښتنه: رسول الله ﷺ چې د حجر نومي سيمې نه تېريده څه يې وفرمايل؟

۲۳۰. ځواب: وي فرمايل د هغه چا کورنو ته مه داخلیږی چې په خپلو نفسونو يې ظلم کړی هسې نه چې د دوی عذاب تاسو ته ورسېږي.

۲۳۱. پوښتنه: رسول الله ﷺ کله چې تبوک ته ورسيده څه يې وفرمايل؟

۲۳۱. ځواب: رسو الله ﷺ وفرمايل چې نن شپه به سخت باد دربانديې راولوزي ،هيڅوک به نه دريږي، د اوښانو خاوندان دې د اوښانوګونډې وتړي. هماغه وه چې سخت باد راغی، يو سړی د رسول الله ﷺ د امر په خلاف پاڅيده ودريده چې باد پورته کړ ان د (طيئ ) په غره يې وغورځاوه.

۲۳۲ .پوښتنه: رسول الله ﷺ ته ولې (خاتم النبيين) وايی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۳۲. ځواب: ځکه چې وروسته له رسول الله ﷺ څخه به بل پیغمبر تر قیامته پورې رانشي او خپله رسول الله ﷺ هم فرمایلي دي:( زه تر ټولو وروستی پیغمبر یم، وروسته له ما څخه بل پیغمبر نشته).

۲۳۳. پوښتنه: له رومیانوسره جګړه وشوه کنه؟

۲۳۳. ځواب: نه جګړه ونه شوه رومیانو جزیه ومنله.

۲۳۴. پوښتنه: بیرته مدینې ته د سفر په وخت کې څو منافقانو د رسول الله ﷺ د شهادت توطئه جوړه کړه؟

۲۳۴ .ځواب: دولسو(۱۲) منافقانو.

۲۳۵. پوښتنه: پدې وخت کې له رسول الله ﷺ سره څوکسه و؟

۲۳۵. ځواب: دوه کسه یو عمار او دویم حذیفه (رضی الله عنهما).

۲۳۶. پوښتنه: د سول الله ﷺ د راز یار(صاحب السر) یا ملګری څوک و؟

۲۳۶. ځواب: حضرت حذیفه (رضی الله عنه).

۲۳۷. پوښتنه: د تبوک له غزا نه څو ریښتیني مسلمانان پاتې شوي و ؟

۲۳۷. ځواب: دری کسه کعب بن مالک، مراره بن ربیع او هلال بن امیه (رضی الله عنهم).

۲۳۸. پوښتنه: د دوی په هکله څه حکم نازل شو؟

۲۳۸. ځواب: دوی باید له ټولنې نه ګوښې شي څوک باید ورسره خبرې ونه کړي.

۲۳۹. پوښتنه: څو ورځې بعد الله تعالی د دوی توبه قبوله کړه؟

۲۳۹. ځواب: پنځوس ورځې بعد یې توبه قبوله شوه.

۲۴۰. پوښتنه: د تبوک د غزا یادونه په کوم سورت کې شوې؟

۲۴۰. ځواب: د برائت په سورت کې.

۲۴۱. پوښتنه: د رسول الله ﷺ لور ام کلثوم په کوم کال کې وفات شوه؟

۲۴۱. ځواب: د هجرت په نهم کال د تبوک غزا نه وروسته.

۲۴۲. پوښتنه: د منافقانو رئیس عبدالله بن ابي په کوم کال مړ شو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۴۲. ځواب: د هجرت په نهم کال د تبوک غزا نه وروسته.
۲۴۳. پوښتنه: رسول الله صلی الله علیه وسلم د کوم پاچا د جنازی لمونځ غائبانه وکړ؟
۲۴۳. ځواب: د حبشی پاچا اصمحه.
۲۴۴. پوښتنه: رسول الله صلی الله علیه وسلم ابوبکر(رضی الله عنه) په کوم کال حج ته ولیږه؟
۲۴۴. ځواب: د هجرت په نهم کال د ذي الحجه په میاشت کې.
۲۴۵. پوښتنه: کله چې د تساوئ او برابرئ آیتونه نازل شول رسول الله څوک د اعلان لپاره ولیږه؟
۲۴۵. ځواب: حضرت علي (رضی الله عنه).
۲۴۶. پوښتنه: حضرت علي (رضی الله عنه)) د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا پیغام کله اعلان کړ؟
۲۴۶. ځواب: د اختر په ورځ له جمرې سره ولاړ و.
۲۴۷. پوښتنه: په دې فرمان کې څه ول؟
۲۴۷. ځواب: له ټولومشرکینو سره تړونونه مات او لغوه اعلان شول.
۲۴۸. پوښتنه: لعان څه ته وایی؟
۲۴۸. ځواب: ښځه او میړه یو په بل لعنت ووایی.
۲۴۹. پوښتنه: لعان د لومړي ځل لپاره د چا تر مینځ واقع شو؟
۲۴۹. ځواب: د عویمر عجلاني او د میرمنې تر مینځ یې.
۲۵۰. پوښتنه: د الله تعالی دښمن عامر بن طفیل څو صحابه شهیدان کړل؟
۲۵۰. ځواب: اویا (۷۰) صحابه (رضی الله عنهم) یې په شهادت ورسول.
۲۵۱. پوښتنه: عامر بن طفیل چیرته ساه ورکړه؟
۲۵۱. ځواب: د یوې سلولي ښځې په کور کې یوه غده (دانه) په ستوني کې پیدا شوه د همغې له امله یې ساه ورکړه.
۲۵۲ .پوښتنه: رسول الله صلی الله علیه وسلم د حج ادا کولو لپاره په کوم کال حرکت وکړ؟
۲۵۲. ځواب: د هجرت په لسم کال د ذي القعدې په میاشت کې.
۲۵۳. پوښتنه: له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د حج ادا کولو پرمهال څومره کسان و؟
۲۵۳. ځواب: یولک څلورڅلویښت زره (۱۴۴۰۰۰) کسان و.
۲۵۴. پوښتنه: رسول الله صلی الله علیه وسلم کله چې خطبه ویله چا پر لوړ آواز تر نورو رسوله؟
۲۵۴. ځواب: ربیعه بن امیه بن خلف.
۲۵۵. پوښتنه: کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خطبه لوستله الله تعالی کوم آیت نازل کړ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۵۵. ځواب: (الیوم اکملت لکم دینکم و اتممت علیکم نعمتی ورضیت لکم الاسلام دینا)المائده:۳
۲۵۶. پوښتنه: کله چې دغه آیت نازل شو چا وژړل او څه یې وویل ؟
۲۵۶. ځواب: حضرت عمر (رضی الله عنه) وویل چې په کمال پسې نقصان وي.
۲۵۷. پوښتنه: رسول الله ﷺ د ذبحې په ځای کې څو اوښان ذبح کړل؟
۲۵۷. ځواب: دری شپیته (۶۳) اوښان ذبح کړل.
۲۵۸. پوښتنه: نور اوښان یې چاته وسپارل چې د رسول الله ﷺ په نماینده ګی یې ذبح کړي؟
۲۵۸. ځواب: حضرت علي (رضی الله عنه) ته.
۲۵۹. پوښتنه: حضرت علي (رضی الله عنه) څو اوښان حلال کړل؟
۲۵۹. ځواب: اوه دیرش (۳۷) اوښان.
۲۶۰. پوښتنه: په دې ورځ ټول څو اوښان ذبح شول؟
۲۶۰. ځواب: ټول سل (۱۰۰) اوښان ذبح شول.
۲۶۱. پوښتنه: د رسول الله ﷺ وروستی پوځي تحرک کوم و؟
۲۶۱. ځواب: د اسامه بن زید بن حارث (رضی الله عنه) سریه.
۱۶۲. پوښتنه: دغه سریه په کوم کال کې و؟
۲۶۲. ځواب: د هجرت ۱۱ کال د صفر په میاشت کې.
۲۶۳. پوښتنه: د اسامه بن زید (رضی الله عنه)عمر څومره و؟
۲۶۳. ځواب: (۱۷) کلن و.
۲۶۴. پوښتنه: رسول الله ﷺ په (۱۰) هجری کال د رمضان په میاشت کې څو ورځې اعتکاف وکړ؟
۲۶۴. ځواب: شل(۲۰) ورځې.
۲۶۵. پوښتنه: رسول الله ﷺ ته د عمر په وروستیو کې جبرائیل (علیه الصلوة والسلام) څو ځلې قران الکریم تکرار کړ؟
۲۶۵. ځواب: دوه (۲) ځلي.
۲۶۶. پوښتنه: رسول الله ﷺ په حجة الوداع کې څه وفرمایل؟
۲۶۶. ځواب: وي فرمایل چې ښایي زه له سږني کال نه وروسته د تل لپاره تاسي په دې ځای کې ونه وینم.
۲۶۷ .پوښتنه: رسول الله ﷺ د احد شهیدانو ته چې دعا وکړه په کوم کال تللي ؤ؟
۲۶۷. ځواب: د هجرت په یوولسم(۱۱) کال د صفر په میاشت کې.
۲۶۸. پوښتنه: رسول الله ﷺ په کوم کال مریض شو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۶۸. ځواب: يوولسم د هجرت د صفرمياشت په ۲۹ مه د دوشنبې په ورځ.
۲۶۹. پوښتنه: رسول الله صلی الله علیه وسلم په کوم مرض اخته شوی و؟
۲۶۹. ځواب: سردرد اوسخته تبه.
۲۷۰. پوښتنه: د رسول الله صلی الله علیه وسلم مرض څو ورځې دوام وکړ؟
۲۷۰. ځواب: ۱۳ يا ۱۴ ورځې.
۲۷۱. پوښتنه: رسول الله صلی الله علیه وسلم د ژوند وروستنې اونې د چا په کور کې تېره کړه؟
۲۷۱. ځواب: د حضرت عائشې (رضی الله عنها ) په کور کې.
۲۷۲. پوښتنه: رسول الله صلی الله علیه وسلم کله چې دا خبره وکړه چې الله تعالی خپل يوه بنده ته اختيار ورکړی دی چې خوښه يې د دنيا له شان، شوکت، زيب او زينت نه چې څه غواړي اخلي او که هغه څه اخلي چې له الله سره دې دغه بنده د دنيا په مقابل کې هغه څه خوښ کړل چې د الله تعالی سره دي څوک په ژړا شو؟
۲۷۲. ځواب: حضرت ابوبکر صديق (رضی الله عنه).
۲۷۳. پوښتنه: رسول الله صلی الله علیه وسلم د حضرت ابوبکر صديق (رضی الله عنه)په هکله څه وويل؟
۲۷۳. ځواب: له ما سره د ملګرتيا او مالی همکارۍ له وجې نه تر ټولو زيات احسان او نيکي ابوبکرصديق (رضی الله عنه) را سره کړي که له الله (جل جلاله) نه پرته مې خليل (دوست) نيولی نو ابوبکرصديق(رضی الله عنه) به مې خليل وای.
۲۷۴. پوښتنه: رسول الله صلی الله علیه وسلم اخری لمونځ چې امامت وکړکوم و او کوم سورت يې پکې قرائت کړ؟
۲۷۴. ځواب: د ماښام لمونځ و او د المرسلات سورت.
۲۷۵. پوښتنه: درسول الله صلی الله علیه وسلم د مريضۍ په ورځو کې ابوبکرصديق(رضی الله عنه) څو لمونځونه ادا کړي؟
۲۷۵. ځواب: اوه لس (۱۷) لمونځونه.
۲۷۶. پوښتنه: رسول الله صلی الله علیه وسلم د رحلت نه يوه ورځ مخکې څه وکړل؟
۲۷۶. ځواب: خپل ټول غلامان يې آزاد کړل،(۷) ديناره يې درلودل هغه صدقه کړل،خپله وسله يې مسلمانانو ته ورکړه.
۲۷۷. پوښتنه: د رسول الله صلی الله علیه وسلم وروستی نصيحت څه و؟
۲۷۷. ځواب: وفرمايل چې پر يهودو او نصرانيانو دې د الله تعالی لعنت وي د خپلو نبيانو قبرونه يې په عبادت خانو بدل کړي.
۲۷۸. پوښتنه: رسول الله صلی الله علیه وسلم په کوم کال وفات شو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۷۸. ځواب: د هجرت یوولسم کال د ربیع الاول په ۱۲ نیټه د دوشنبې ورځ.

۲۷۹. پوښتنه: د رسول الله ﷺ ټول عمر څو کاله و؟

۲۷۹. ځواب: دری شپیته(۶۳) کاله او څلور ورځې.

۲۸۰. پوښتنه: کله چې رسول الله ﷺ واده وکړ د خدیجې (رضی الله عنها) سره عمر یې څومره و؟

۲۸۰. ځواب: د رسول الله ﷺ عمر (۲۵) کاله و او د خدیجې (رضی الله عنها) عمر (۴۰) کاله.

۲۸۱. پوښتنه: د رسول الله ﷺ اولاد د کومې ښځې نه و؟

۲۸۱. ځواب: ټول اولاد یې د حضرت خدیجې (رضی الله عنها) نه و.

۲۸۳. پوښتنه: د رسول الله ﷺ د زامنو نومه واخلئ؟

۲۸۳. ځواب: عبدالله مشهور په طاهریا طیب، قاسم، ابراهیم.

۲۸۴. پوښتنه: د رسول الله ﷺ څو لورګانې وې او نومونه څه ول؟

۲۸۴. ځواب: څلور وې زینب، رقیه، ام کلثوم، او فاطمه (رضی الله عنهن).

۲۸۵. پوښتنه: رسول الله ﷺ د څو ښځو سره نکاح کړې وه؟

۲۸۵. ځواب: د (۱۳) ښځو سره دوه ښځې یې په ژوند کې وفات شوې وې له دوه ښځو سره واده نه و شوی او (۹) ښځې یې ژوندۍ وې.

۲۸۶. پوښتنه: رسول الله ﷺ د حضرت سوده بنت زمعه (رضی الله عنها) سره په کوم کال واده وکړ؟

۲۸۶. ځواب: د بعثت په لسم کال.

۲۸۷. پوښتنه: رسول الله ﷺ د حضرت عائشې (رضی الله عنها) سره په کوم کال واده وکړ؟

۲۸۷. ځواب: د بعثت په یوولسم کال د شوال په میاشت کې.

۲۸۸. پوښتنه: رسول الله ﷺ د حضرت حفصه بنت عمر(رضی الله عنهما) سره په کوم کال واده وکړ؟

۱۸۸. ځواب: د هجرت په دریم کال.

۲۸۹. پوښتنه: رسول الله ﷺ د حضرت زینب بنت خزیمه (رضی الله عنها) سره په کوم کال واده وکړ؟

۲۸۹. ځواب: د هجرت په څلورم کال.

۲۹۰. پوښتنه: ام المساکین د چا لقب و؟

۲۹۰. ځواب: د حضرت زینب بنت خزیمه (رضی الله عنها).

۲۹۱ .پوښتنه: رسول الله ﷺ د ام سلمه هند بنت ابي امیه (رضی الله عنها) سره په کوم کال واده وکړ؟

۲۹۱. ځواب: د هجرت په څلورم کال د شوال په میاشت کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۲۹۲. پوښتنه: رسول الله ﷺ د حضرت زينب بنت جحش (رضی الله عنها) سره په کوم کال واده وکړ؟
۲۹۲. ځواب: د هجرت په پنځم کال د ذي القعدې په مياشت کې.
۲۹۳. پوښتنه: رسول الله ﷺ د حضرت جويريه بنت حارث (رضی الله عنها) سره به کوم کال واده وکړ؟
۲۹۳. ځواب: د هجرت په شپږم کال د شعبان په مياشت کې.
۲۹۴. پوښتنه: رسول الله ﷺ د ام حبيبه رمله بنت ابي سفيان (رضی الله عنها) سره په کوم کال واده وکړ؟
۲۹۴. ځواب: د هجرت په اووم کال د محرم په مياشت کې.
۲۹۵. پوښتنه: رسول الله ﷺ د حضرت صفيه بنت حيي بن اخطب (رضی الله عنها) سره په کوم کال واده وکړ؟
۲۹۵ .ځواب: د هجرت په اووم کال د خيبر له فتح نه وروسته.
۲۹۶. پوښتنه: رسول الله ﷺ د حضرت ميمونه بنت حارث (رضی الله عنها) سره په کوم کال واده وکړ؟
۲۹۶. ځواب: د هجرت اووم کال د ذي القعده مياشت د قضايي عمرې نه وروسته.
۲۹۷. پوښتنه: د رسول الله ﷺ په ژوند کې کومې ښځې وفات شوي وې؟
۲۹۷. ځواب: حضرت خديجه او حضرت زينب (ام المساکين) (رضی الله عنهما).
۲۹۸. پوښتنه: رسول الله ﷺ د کومو وينځو سره واده کړی و؟
۲۹۸. ځواب: د ماريه قبطي او ريحانه بنت زيد قرظي (رضی الله عنهما).
۲۹۹. پوښتنه: زوی د کومې وينځې نه و او نوم يې څه و او په کوم کال وفات شو؟
۲۹۹. ځواب: د ماريه قبطي (رضی الله عنها) نوم يې ابراهيم و د هجرت په لسم کال د شوال په (۲۸) نيټه وفات شو.
۳۰۰. پوښتنه: رسو الله ﷺ ډېر ودونه د څه لپاره کړي و؟
۳۰۰. ځواب: د دی لپاره چې د دين اسلام داعيانی شي او دين نورو ښځو ته ورسوي ځکه چې ښځو نه شو کولای چې د نارينه و نه ديني احکامات ياد کړي.

## د رسول الله ﷺ صفات او اخلاق

ر سول الله ﷺ د داسې جسماني او اخلاقي کمال، جمال او ښکلا خاودن و چې په ژبه يې وصف او بيان نه شي کيدلی. زړونه دده په محبت او دوستۍ ودان و، هره سينه يې له قدر او درناوي ډکه وه، خلکو دده له عظمت

(c) ketabton.com: The Digital Library



او کرم نه ځانونه قربانول. د رسول الله ﷺ په شان قدر او منزلت د هیچا نه و، نه دی او نه به په راتلونکي کې شي،چا چې ژودن ورسره کړی دده میني او محبت بندیوان شوی، اصحابو (رضی الله عنهم) دومره مینه ورسره درلوده چې په خپله یې مرګ قبلاوه حو دا یې نه غوښتل د رسول الله ﷺ یو نوک خوږ شي.

### د رسول الله ﷺ اخلاقي کمال او شمایل

کله چې رسول الله ﷺ د هجرت په سفر کې د ام معبد خزاعي له خیمې نه تیر شو. له ام معبد سره یې ملاقات وشو،نوموړې خپل میړه ته دده ﷺ صفات بیان کړل او په دې هکله یې داسې وویل: یو شخص مې ولیدچې ډیر ښکلی او باوقاره و، ځلیدونکی مخ او غوره اخلاق یې درلودل، نه مریض و او نه یې اندامونه غیر متناسب وو، ډېر ښکلی او برابرو. زړه راښکونکی سر او مخ یې درلودل، توري سترګې، لوړ اواز، اوږده غاړه، ګڼه ږیره، اوږده باڼه، نښتي نری ورځې او اوږده تور ویښتان یې درلودل، چې چپ به و ځانګړی وقار یې درلود او که خبرې به یې کولې عظمت او لوړوالی به یې له ورایه ښکاریده، له لرې نه ډېر باهیبته او دروندښکاریده او له نژدې نه ډیر خوږ، شرین زبانه و، خبرې یې لندې او مقبولې وې، نه یې زیاتې خبرې کولې او نه له اندازې نه کمې، حبرې یې لکه ملغلرې وې، د متوسطې ونې خاوند و، نه ډېر لوړ او نه ډېر ټیټ و، د داسې یوې څانګې په شان و لکه چې د دوو څانګو تر مینځ واقع شي او له دواړونه وتلې او غوره وي، ملګرو یې ډیره مینه ورسره درلوده، چې ده به خبرې کولې ملګري به یې چوپ و امر به یې چې وکړ ټول به یې تعمیل ته ولاړیدل، امر یې منل کیده، نه بد خویه و او نه ظالم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د رسول الله ﷺ اخلاق او روحاني کمال

رسول الله ﷺ د بې ساري فصاحت او بلاغت خاوند و، رواني، لنډې، با معنی او بې تکلفه خبرې يې ځانګړتيا وه. رسول الله ﷺ ته جوامع الکلم والحکم ورکړل شوی و، يعنې د داسې بياني کمال درلودونکی و چې زيات مفاهيم به يې په ډېرو لنډو ټکو کې بيانول او ډېر زيات حکمت او کمال خاوند و.د عربانو په مختلفو لهجو ښه پوهيده او د هرې قبيلې سره د همغې قبيلې په لهجه خبرې کولی، د زيات حلم، حوصلې، مهربانۍ، او ښښنې خاوند و د قدرت په وخت کې عفوه، د مشکلاتو په وړاندې صبر او مقاومت هغه صفتونه وو چې الله تعالی ورباندې لورولي و.

هغه حضرت ﷺ لومړنی پيغمبر و چې د ده حيات اوممات، رسالت، کارناماو د زيږيدلو په مهال، کوم واقعات چې رامنځته شو هيڅ ډول شک اوشبهه موجود ندی. آصل اونسب يې له موراوپلارنه ترحضرت ابراهيم خليل الله پورې ټولوعربواوعجموته روښان دی. حضرت ﷺ لومړنی پيغمبردی چې برسيره پرخپل کتاب اودينی سنت د تاريخ په روښانو اوزرينو پاڼو کې ډيراوچت اولوړځای اومقام ګټلی دی. همدارنګه سربيره د نبوت اورسالت له وظيفی نه د يو لوی ښوونکی اولارښود په حيث نه يوازی د خپلو پيروانو لپاره، بلکې د انسانی نهضت اوترقی د مادی اومعنوی تکامل مخکښ ګام وهونکی اولارپرانيستونکی مثال او سمبول هم ګڼل کيږی. يعنی په حقيقت کې نننۍ بشری نهضت اوپرمختګ (که نړيوال اعتراف وکړی يا نه ) دهغه ﷺ له علمی ،اداری اوسياسی تدبيراونهضت له روح څخه سرچينه اخيستې دی. پرته له شکه آنحضرت ﷺ يو رښتين سترسياست پوه ، متفکر، اوفاضل شخصيت و.

دبشری نجات د لاری ستر لارښود پيغمبر ﷺ هغه مهال دنيا ته راغی، چه ناپوهی اوخرافاتو خپل څادر غوړولی وو. انسانی عاطفی او ژوند خپل ځای دښمنی، ظلم اوبی عدالتی ته پريښی و. همدا راز بربريت ، ناروا او بدمرغۍ حکومت چلاوله. دمظلوم، محکوم اوبيوزلو خلکو وينې په ناحقه توييدلی . ظلم اوتيری، بی انصافی اوعداوت خپل اوج ته رسيدلی و، خلکو نه لار ورکه شوی وه، او د جهل ، ګمراهی اوناپوهی داسې کندې ته غورځيدلې و چې له دی کندې نه د نجات اوتلو خبره دبشری عقل نه لېرې ښکاری ده.

له بلې خوانه د ابليس اوابليس صفتانو بازار ډير تودو، اوخلک يې داسې ترسلطی اوتاثير لاندې نيولی و، چې شراب، قماروهل، زنا، دخلکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرمال، ناموس اوعزت باندې تيرى اوتجاوزاو ژوندې ترخاورى لاندې كول اوداسې نورو فجايعو د عادى ورځنې رواجونه او د مستكبرانو او جبارانو د سرگرمى اومصروفيتونو څخه شمېرل كيده. د زمان په تيريدو انسان اوانسانيت له اصلى واټن اولاره منحرف اوانسانى روح نارامه كيده .

خو دا بايد په ډاګه شي چې هرڅيز انجام اوهره تياره پاى لرى. د ظلم كاسه نسكوره ده، او د ظالم ډيوه ترسهاره نه بليږى. نوهمدا ډول د دغو مظالمو، بدمرغيو او تورى تيارى انجام رب العزت په اراده رانږدى شو، اوزوال نيټه يې راورسيد .

ورځ په ختميدو شوه، لمرخپلې زرينى وړانگې ورو ورو دكليو باندوا وغرونو څخه راټولولې. او د شپې تورى تيارى خپله لمن پراخوله. شپه راورسيدله، خلك ټول په آرام خوب تللې وو، چپه چپتياوه ، آرام اومعطر وږمې خوځيدى، سپوږمى د خپل سپين مخ په شغلو تياره ځمكه رڼا كوله ستورى په آسمان كې د الماس په شان ځليدل .

هر لورى په معنوى دنيا كې داسې د مباركې پيغامونه خپرول چې د مادى دنيا يې په شور راوسته . په دغه شيبو كى د بشريت سترلاربنود، د معنويت لوى لمر د يو بې وزلى او فقيرى كورنى شخص نږى ته سترگې خلاصې كړى، او وزيږيد. هغه سترشخصيت دنيا ته راغى چې ټولې ناكراره ارواح يې په انتظار وو. انس او جن ټولې د هغه لپاره د امتحان ډګر ته راوستل شوى وو . خلاصه دا چې د دنيا ټولې هستې د رحمت اللعالمين دهركلى او درناوى لپاره چمتو اوګمارل شوى وو، كه د نبى كريم صلى الله عليه وسلم د كردار او سيرت ته پام وكړو، ګورو چې دكړاونو اوتكليفونو بيلګه ده هغه دموراو پلار د غيږ، مينې اوشفقت څخه محروم اوپه ظاهر كې يوشپون و، خو الله (جل جلاله) ورته لوى مرتبت اومقام ورروبخښله، چې د انسانانو شپونې او لاربښوونى دنده او رسالت ورته وسپارل شو. رسول كريم صلى الله عليه وسلم د تعليم د نعمت څخه بې برخى و، خو څرنګه چې مخكښې ذكر وشو، رب (جل على شانه ) د ټولې نړى لپاره ښوونكى وټاكلو. هغه د دنيا په مزخرفو قوانينو نه پوهيده، خو وروسته د داسې قانون مالك شو، چې د ده قانون ترقيامته دمومن او معتقد آدميان اوعالميانو لپاره لاربنود او نجات وركوونكى دى.

رحمت للعالمين صلى الله عليه وسلم داسې قانون ځان سره راوړ چې ټول جهالتونه يې له مينځه يوړل، نه يوازى مسلمانانو ته بلكې ټول بشريت ته يې لاره روښانه كړه. خلګو ته د قرآن په اعجازاو معنوى قوت اود نيك سيرت او كردار په واسطه نورنه پريښودل چې معنوى كاذب او خپل بشر په لاسونو جوړشوي بتانو ته سجده وكړى . پرى نه ښودل چې مظلومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نجونی طبقه ژوندی ترخاورو لاندې شی . هغه ظلمونه اوتیری او بې انصافی اواستبداد لـه مینځـه یوړل او د خلکو رجـوع دیو الله (جل جلالـه) خواته وکړه ، هغه الله ته چې واحد او لاشریک او بې ساری دی .
کـه دی مسـلې تـه ځییرشـو چـې آنحضـرت ﷺ هیڅکلـه نـه د سیراوحکمت کتابونه اونه د پخوانیو خلکو کتابونـه نـه و لوستلی او د چا څخه یی تجربی هم نـه وه ترلاسه کړی! نوځنګه یی وکولای شو چې سرکښ اوګمراه عربو ایل (رام) کړی. اوځنګه یې په ډیر ښه تدبیر سره د دوی سخت زړونـه نـرم اوپرځـان راټـول کـړی. ان تـردی حـده چـې د رسـول الله ﷺ د خیربښـګڼې ارمـانونو د لاری پلـی کیـدلو لپـاره لـه خپلوسرکش اومنحرفو ، میندو، پلرونـو، او زامنـو سره مقاتلـه اومقاطعـه وکړی ، داڅرګندده چې د پیغمبر ﷺ د لوړ علم او پوهی اوفراست اوتوانـایې پـه نتیجـه کـې وو، دا ځکـه چې اخلاقـی پراختیـایی د عقل د درجې په اندول وه. رسول کریم ﷺ د دومره پراخې اخلاقی مرتبې خاوند وو، چې هغو منافقانو چې پرده مبـارک بانـدې پـه غیـاب کـې بد ویل، پـه مخـامخ بـه یـې غوړه مـالې کـولې. د یو روایت پربنا کله چې یارانو ورته وویل چې پر هغه قوم چې ستاسره مقاتله کوی اوستاغاښ یې ماتې کړیدی اوستا لـه مبارکـه وجـود څخـه یـې وینـی بهولې دی نفـرین ووایه .
آنحضرت ﷺ وفرمایل چې: زه د دی لپاره نه یم راغلی چې خلکوتـه نفـرین اولعنـت ووایـم، بلکـې زمـا بعثـت د دعـا او رحمـت لپـاره دی آنحضرت ﷺ آرام با وقاره، امین ، متواضـع، ډیرخـوش خـوی او مهربان انسان و، له دې کبله د خلکو په زړونو کې ځای درلود .
قـوی زورور اوبـې وزلـه او ضـعیف د ده مبـارک پـر وړانـدې یـوډول و، دضعیفانو پوښتنه به یې زیاته کوله. د ناروغانو عیادت به یې کـاوه، د مړو پـه جنـازه بـه حاضـریده، او نورخلـک یـې د نیکو کـارونو تـه رابلل. په مصـالح او فضـایلو کـې ډیری هڅـی کولې اود مشـکلاتو پـه لـه مینځه وړلو کې ډیراخلاص مند و. دین یې ایمـان او سرمشق یـې قرآن و هغه څه چې قرآن غوښتل ده هم غوښتل اوهغه څه چې قرآن نـه منل ده هم نه منل .
نوپه خاتمه کې عرض مې دا دی ، چې بې لـه شـکه د خدای تعالی ځای او نظر د انسان په زړونو کې دی ، باید هم چې زړونـه پـاک وی ،خو مسلمانو ته یوازی پاک زړه کفایت نکوی ، بلکی اړینه دی چې په سیرت او صورت کې د یو مسلم اوغیرمسلم ترمینځ توپیرڅرګند او ښکاره کړي دخپل نظراو کردار پـه وسیله نـور مـه پریږدی چـی خلـک بیا د جهالـت کنـدې تـه وغـورځیږی. ظالمانواوجبـارانو پسـې لاړنشـي اومـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پریبږدی چې موقع ترلاسه کړی، او د مظلومو ولسونو د وینې مزه اوچړچی وکړی. راځئ چې د قرآن ترسیوری لاندې هوسا ژوند وکړو، اوخپل یووالی ، وروروللی، په رښتیا او صادقانه ډول پیاوړی کړو ترڅو د دغه آسماني قانون هدایات اود پیغمبراکرم ﷺ دنیک کردار اوسیرت په پلی کولوسره د دنیا اوعقبی لوی اوسترو نیکمرغیو او بریالیتوبونو ته لاس رسی پیدا کولی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هماغسې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم اوصحابه کرام (رضی الله عنهم) دقرآن مجيد په دستوراتو اولارښوونو په ټولنې کې د تقوا ، پرهيزګاری مينه اوصداقت ، عدل او انصاف سره تيرکړي دي او د يوهوسا او با امن ژوند برابرولو او پلی کولو کې هڅه کړی او زيار ايستلی دی، د نړی د استکباری ځواکونو د له مينځه وړلو کی خپلې هستی وقف کړی، نن هم هماغه قانون اوسنت موجود دی خو ضرورت دی چې د خپل دعمل دلاری ډيوه اولارښود يې وکړځوو، او يوازی د راسخ ايمان درلودلو سره توفيق د لوی او بخښونکی خدای تعالی څخه چې الله الصمد دی وغواړو.

د پای ورځ جمعه :

**۱۴۰۱\۹\۱۸** هـ ش **۱۴۴۴\۵\۱۵** هـ ق **2022\12\9** م

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**